# د سهېلي پښتونخوا پښتو غزل او د هغې ارتقايي مزل

**Pashto Ghazal in Suhailee Pashtonkhwa and its eualuative journey.**

محمد انور*

پروفېسر ډاکټر نصيب الله سيماب*

(Crosponding Auther)

**ABSTRACT**:

Suhailee Pashtonkhwa is a well known part of pashton mother land and having a historical, geoghraphycal, straitegic importance.and also having the rich literary power for Pashto poetry.we have an attempt to highlight those poets of the said area who have full command on a qualitative and meaningful ghazal in Pashto. Those who have brought the new and modern thoughts in Pashto ghazal as per their time and period. We have an attempt to highlight the periods of Pashto in this area. We have highlighted the eualvative process of Pashto Ghazal in this area as per the geoghraphycal, social, political, economic and cultural changes with time and space.

کله چې مونږ د غزل خبره کوو نو په ذهن کښې مو يو داسې نرم ونازک انځور جوړ شي چې د هغۀ طبع ډېره نازکه او باريکه وي، هغه پر خپلو ورېو تش د نازکو احساساتو بار وړلی شي نور درانۀ پيتې نۀ شي وړلی. د وخت څپو دا نرم او نازک صنف له داسې حلاتو سره مخامخ کړی چې د نۀ غوښتلو باوجود يې هغه پيتې پورته کول شروع کړو، کوم چې سخته او ترخه بڼه لري ځکه چې دا د وخت ضرورت شو. پښتو ته غزل څنګه او د کومې خوا راغله زۀ تر دې خبرو ځکه تېرېږم چې يو خو دا زما موضوع نۀ دی بل پر دې باندې خبره کول خبره اوږدول دي، په دې اړه هر څوک معلومات لري. زۀ د سهېلي پښتونخوا د غزل سفر ته ستاسو پام راګرځوم چې له دې نازک صنف سره دلته څنګه چلند شوی دی او دا يې څنګه نازولی دی.

لکه څنګه چې زمونږ موخه د سهېلي پښتونخوا غزل او د هغې ارتقايي مزل ته نظر کول دي نو له دې کبله به د سهېلي پښتونخوا د پښتو غزلګول شاعرانو نومونه او د هغوی د غزل نمونې راواخلو. د خپلې څېړنې د اسانۍ او د ښۀ وضاحت په خاطر مې د سهېلي پښتونخوا پښتو غزل پر درې دورو وېشلې ده. چې اوله دوره مې د لرغونې دورې په نامه نومولې ده، چې ۱۷۹۳م عېسوي کال پورې ده. دوېمه دوره مې له ۱۷۹۳م څخه بيا تر ۱۹۴۷م عيسوي کال پورې ټاکلې ده، چې د

* M.phil scholar, Pashto Department, University of Balochistan, Quetta

* nseemab902@gmail.com 03138222486

منځنۍ دورې په نامه نومول شوې ده. درېمه دوره د جدیدې دورې په نامه ده چې له ۱۹۴۷م کال څخه بیا تر اوسه پورې دوام لري.

د کوم دلیل له مخه چې مې دا دوې دورې ټاکلې دي هغه دا چې هر کله چې پر یو ملک یا قوم یا سیمه یو بدلون راغلی وي نو هغه بدلون له ځان سره تغیرات هم راوړي دي یعني هغه بدلون د هغهٔ ملک یا قوم او سیمې پر وګړو باندې څهٔ نه څهٔ اثر او اغېز ضرور کوي. نو چې اغېز کوي، د هغې اغېز په ادبیاتو کښې هم خپل رنګ ښکاره کوي نو د دې تقسیم بنیادي وجه هم دا ده ځکه چې دلته هره دوره خپله ځانګړتیا لري.

**لومړۍ دوره (له پیل نه تر ۱۸۹۳م عیسوي کال)**

په اوله دوره کښې هغه غزلګو شاعران شامل دي چې په هغه وخت کښې دوی یعني پښتانهٔ ټول د یوهٔ ملک، ریاست یا وطن خاوندان وو او باچایي یا حکمران یې په ثقافتي، تاریخي، لساني او اجتماعي توګه دوی ته ورته وو. ټول پښتون یې د طرز حکمرانۍ هم عادي وو. د قام وګړي، شاعران او لیکوالان له داسې غټې روهې محرومۍ سره نهٔ مخ کېدل چې اغېزه به یې هم ډېره ژوره وه.

**منځنۍ دوره (له ۱۸۹۳م څخه تر ۱۹۴۷م عیسوي کال پورې)**

له ۱۸۹۳م عیسوي کال څخه پس ریاست بدلیږي، حکمران یې بدلیږي چې له قام سره په تاریخي، لساني، ثقافتي او اجتماعي بنیاد باندې توپیر لري، نو ښکاره خبر ده د سهېلي پښتونخوا پر وګړو، شاعرانو اولیکوالانو باندې به یې هم اجتماعي، ثقافتي او نفسیاتي اغېزه کړې وي. نو دلته به یې ادبیات او غزل هم اغېزمن شوي وي. دې ته د منځنۍ دورې نوم ورکوو.

**جدیده دوره (۱۹۴۷م څخه تر اوسه) (جدیده دوره)**

درېمه دوره چې مونږ ورته جدیده دوره وایو بیا ریاست بدلیږي، حکمران یې بدلیږي، د حکمرانۍ طرز یې بدلیږي نو په دې دوره کښې هم د سهېلي پښتونخوا پښتو غزل د موضوع بدلون رامنځ ته کېدای شي، ولې چې په ریاستي سطح د یو قوم اجتماعي، ثقافتي او لساني بدلون لامل جوړیږي. دا تحقیق په دې لوړ تناظر کښې مخ په وړاندې ځي.

اوس راځو د سهېلي پښتونخوا د غزل د دې دریو دورو په چوکاټ کښې د ارتقایي مزل و خوا ته چې سرخېل یې پیر محمد کاکړ دی.

**لرغونې یا لومړۍ دوره (له پیل نه تر ۱۸۹۳م عیسوي کال)**

پیر محمد کاکړ:

د سهېلي پښتونخوا ادبيات چې د پښتو ادبياتو يوه برخه ده. دلته د پښتو غزل اوله دوره له پيرمحمد کاکړ څخه شرو کيږي. چې د احمد شاه ابدالي په وخت کښې ژوندی ؤ، او د موجوده افغانستان کندهار ته تللی وو. د دۀ پلرنی ټاټوبی ږوب او په ږوب کښې د هندوباغ (مسلم باغ) د يعقوبې د کلي اوسېدونکی چې په ختۀ کاکړ سنتيا مهترزی ؤ"(۱).

خو د ژوند پخه برخه يې په کندهار کښې تېره کړې ده. زلمی هېوادمل د پير محمد کاکړ په حقله ليکي:

"چې د احمد شاه بابا تر باچا کېدو وروسته، د خپل علمي شهرت او فضيلت له امله پير محمد کاکړ کند هار ته رابلل شوی دی"(۲).

او د احمدشاه بابا د زوی چې سلېمان نومېده استاد هم پاتې شوی دی.

"د پير محمد د پيدائش تاريخ تقريباً ۱۱۲۰هجري مقررولی شو او هر کله چې دی د احمدشاه د مرګ ۱۱۸۶هجري نه هم لس کاله پس ژوندی ؤ نو ويلی شو چې ۱۱۹۶هجري پوري ژوندی دی"(۳).

پير محمد کاکړ د اشعارو يو ديوان لري چې ښې ښې غزلې پکښې تر سترګو کيږي. دۀ په پښتو او فارسي دواړو ژبو کښې شعر ليکلی او هم يې نثر ليکلی دی. د غزل نمونه يې داسې ده:

"دواړه شونډې يې شکرې نۀ دي څۀ دي
قند ديار خوږې خبرې نۀ دي څۀ دي
چې ږلې غوندې ځليږي په خندا کښې
سپينکي غاښ يې مرغلرې نۀ دي څۀ دي
خوار بورا چې يې پر ګل له سوزه وايي
هم هغه د عشق سندرې نۀ دي څۀ دي
بې ګناه چې مي په تېغ د ګناه وژني
جفا جويې ستمګرې نۀ دي څۀ دي
سرۀ غمي چې يې ښکارېږي په چارګل کښې
پيرمحمد ته سرې بنبرې نۀ دي څۀ دي"(۴)

**ملا جان محمد:**

جان محمد يو غزلګو شاعر دی چې د سهېلي پښتونخوا د ږوب ضلعې سره اړه لري د اشعارو ديوان يې د عبدالکريم عامر په زيار چاپ شوی دی.جان محمد کاکړ په ږوب کښې اوسېدی:

"د مرغه کبزئي په کلي سمامزي (گوسه) کښې زېږېدلی، په ختېه کاکړ په کاکړ کښې سنزرخېل په سنزرخېل کښې کبزئی بیا شمامزئی دی"(۵).

جان محمد کاکړ د وخت مروج اسلامي علوم لوستي وو. د ژوند او زمانې حدود یې داسې اټکلولی شو چې:

"د دولسمې پېړۍ د اواخرو او د دیارلسمې پېړۍ د اوائیلو شاعر ؤ"(۶).

د جان محمد د شاعرۍ د بیلګې په توګه دا یوه غزل را اخلو:

"زۀ په تا پسې ژړا کړم یو په یو
هسې رنګ دي تمنا کړم یو په یو
محبوبان که پر جهان باندې بسیار دي
زۀ له ټولو څخه تا کړم یو په یو
ګوندي خدای بې را ښکاره کړي مخ و ماته
هیله طمع یې تنها کړم یو په یو
د یوسف نوراني مخ دی ورته ستوری
چې ړنده زۀ زلیخا کړم یو په یو
جان محمده! خدای دي فتح پر یار در کړي
زۀ نن تا لره دعا کړم یو په یو"(۷)

فیض الله کاکړ:

د فیض الله کاکړ تعلق هم له سهېلي پښتونخوا د ږوب سیمي سره دی چې د پلار نوم یې ملا بابړ دی.

"فیض الله هم د پلار په شان عالم او نېک سړی ؤ او د احمد شاه بابا د توئی وزیر سردار شاه ولي خان استاد وو" (۸).

لکه څنګه چې و ویل شو چې پلار یې عالم سړی ؤ نو ښکاره خبره ده چې ده به هم خپلې زدکړې د خپل پلار څخه په ږوب کښې ترسره کړې وي. د دۀ په حقله سر محقق زلمی هیوادمل لیکي چې:

"فیض الله کاکړ د ملا بابړ اخونزاده زوی د ږوب له کاکړانو څخه و. په احمد شاهي عصر کښې یې کورنۍ کندهار ته راغله، دی د شاه زمان تر عصره ژوندی ؤ. د پښتو غزل سرا شاعر وو"(۹).

خو د دهٔ په حقله د نورو تذکرو سره سره د پښتانهٔ شعراء مؤلف عبدالحی حبیبي د فیض الله کاکړ د دېوان په حقله خاموشه پاته شوی دی. د فیض الله کاکړ ذکر په" پښتو ادب په سهېلي پښتونخوا کښې" صاحبزاده حمیدالله هم نهٔ دی کړی. د ډروب یوه تذکره "دا وګړي ډېر کړي خدایه" چې د میر حسن اتل په زیار را ټوله شوې ده. په دې کښې هم د فیض الله کاکړ څهٔ ذکر نهٔ شته. البته مونږ به یې د ترلاسه شوي شعري بېلګو څخه یوه بېلګه راواخلو:

"که د عشق له کړی، خلاص شوم زهٔ به نذر کاندم غړی
د عشق اور هسې ستي کړم لکه پنډه او سپین غړی
د پت مزی سره غړم ښېرته اوم د عشق په تاو شي
که هر څو پرې پړوي غښتلی ښېرته نهٔ شي هغه اور مړی
ورک یم ستا په مینه ګوره لاس رااوږد کړه چې پرې لاړ شم
ما په دواړه لاسه ستا دی په رښتیا نیولی پړی
چې اوربل چې د سور ټیک شو زما په زړهٔ د اور سکروټه
په ټټر دي لونګین دی زما د مرګ پېغام راوړی
فیض الله پر تا مین یم تا ایستلی تر وطن یم
په ګوګل کښې مي سور اور دی تا له میني را بل کړی"(۱۰)

شېر محمد:

شېر محمد د سهېلي پښتونخوا د اولې دورې د غزلګو شعرا څخه یو دی، د دهٔ په حقله هم د پښتو ادبیاتو تاریخ اکثره خاموش پاته شوی دی خو زلمي هیواد مل د شېر محمد په حقله څهٔ معلومات راوړي دي او لیکي چې:

"د پښین د سیمې دیوان لرونکی شاعر وٚ. په غزل کښې یې د مینې سوز لیدل کیږي، د ژوند زمانه یې دیارلسمه هجري پېړۍ ښوول کیږي، دیوان یې تر اوسه نهٔ دی چاپ شوی د یوې غزلې یو بیت یې دا دی:

الٰهي د حقیقت مسته پیاله را
دا رنګین شراب د عشق په پیمانه را"(۱۱)

مطلب دا چې شېر محمد د ۱۲۰۱م هجري او د ۱۳۰۰ هجري په مېنځ کښې ژوند تېر کړی دی.

حمد الله کاکړ:

حمد الله کاکړ هم یو غزلګو شاعر یاد شوی دی چې د سهېلي پښتونخوا د پښین د سیمې سره یې تړاو درلود، د حمد الله کاکړ د ژوند، تاریخ او دیوان په حقله هم د پښتو د ادبیاتو تاریخ لیکوال اکثر خاموش پاته شوی دی، خو زلمی هیوادمل د دهٔ په اړه معلومات داسې وړاندي کوي چې:

دی هم غزل سرا شاعر تېر شوی دی، د جنوبي پښتونخوا (بلوچستان) د سیمې د پښین اوسېدونکی، د رساله دلرېش په نامه د شعر مجموعه لري چې شپږ سوه بیته ده. دا مجموعه نهٔ ده چاپ شوې او په دې بیت پیل شوې ده.

منور په نور د ځان دي یار زما
لمر ختلی پر جهان دی یار زما"(۱۲)

## منځنۍ دوره (له ۱۸۹۳م څخه تر ۱۹۴۷م عیسوي کال پورې)

علامه عبدالعلي اخوندزاده: علامه عبدالعلي اخوندزاده د سهېلي پښتونخوا د خانوزئي د سیمي سره تعلق لري، دی په ختهه پانېزئی کاکړ ؤ. اخوندزاده د سهېلي پښتونخوا د غزل له دویمې دورې سره تړاو لري. دی یو روښن فکره انسان ؤ. په هغه وخت کښې چې دلته د انګرېز حکمراني وه او زمونږ د وطن خلقو له عصري علوم څخه ډېر بد وړل خو عبدالعلي اخوندزاده په سیمه کښې د عصري علوم پر زده کړه باندې زور اچوی او خپلو خلقو ته به یې دا تبلیغ کوی چې د عصري علومو زده کړه ضروري ده. د دې له کبله داسې وخت هم راغلی چې په ۱۹۹۸م عیسوي کال کښې د بي بي سي پښتو له خوا یوه سروې و شوه چې د خانوزئي خلق یې د تعلیم په ډګر کښې تر ټول پاکستان په اول نمبر وګرځول.

"عبدالعلي اخوندزاده د عبدالخالق اخوندزاده زوی او...دی په ۱۲۸۹م هجري کښې و زېږېدی"(۱۳).

دهٔ ابتدائي زدکړې د خپل پلار او بیا د پلار د مرګه پس یې د خپل اکا څخه ترسره کړې. د لوړو زدکړو د پاره قندهار ته ولاړ او هلته یې د وخت مروجه لوړې زدکړې ترسره کړې، په ۱۹۴۴ کښې یې له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې. د دهٔ د کلام چونږ د کوټي ښاغلي فضل احمد غازي په ۱۹۵۷م عیسوي کښې د (ښاخ ګل) په نامه چاپ کړی ؤ. د دهٔ شاعري د حسن او عشق تفسیر دی. د کلام څهٔ نمونې یې داسې دي:

"که په عقل افلاطون شي
چې مرګ راشي ورته پړ شي
چې مي خولۀ ستا و بارخو ته نۀ رسيږي
له حسرته مي نيولي په دندان لب
نرګس په شان د سترګو حکايت کوي له تا
سنبل په دود د زلفو روايت کوي له تا"(۱۴)

ملا عبدالسلام اڅکزئی: ملا عبدالسلام اڅکزئی د سهېلي پښتونخوا يو غزلګوشاعر دی چې دغزل له دويمې دورې سره يې تعلق دی. ملا عبدالسلام په ختهه اڅکزئی عشبزئي يا اشبزئی دی. دی د چمن اوسېدونکی ؤ.

"ملا عبدالسلام اڅکزئی د چمن څخه ختيځ لور ته د کوږک غرۀ د دنګې څوکې په غېږ کښې پراتۀ کلي ښاخه کښې په کال ۱۳۰۰هجري کښې زېږېدلی"(۱۵).

شاعر ملا عبدالسلام اڅکزئی د ديوان خاوند دی، د دۀ دېوان د (سوسن چمن ) په نامه چاپ شوی دی.

"عبدالسلام اڅکزئي په ساده ژبه په خپل هره غزل کښې د خپل وخت اجتماعي موضوعاتو ته اشا ره کوي"(۱۶).

د دۀ دشاعرۍ په اړه پروفېسر صاحبزاده حميد الله وائي چې:

"ملاعبدالسلام اشبزئی د پښتو ډېر اوچت شاعر دی" (۱۷).

د غزل نمونه يې داسې ده:

"چې غونچې ناوې په غاړه کړ امېل
بيا جرس نارې وهلې الرحېل
ما يو ګل درلود چې تل په نازېدمه
د دنيا په باغ کښې و واهۀ سهېل
د دنيا په شپه به لار په معلومېږي
لکه لمر نۀ پيليته غواړي نۀ تېل
بې رهبره خطاوزي ناخبره
د اشرارو علماء په قال او قېل
د کابل د باغ مرغان عبدالسلامه!
يادوي د زرغونو طوطيانو سېل"(۱۸)

حافظ خان محمد: حافظ خان محمد د سهېلي پښتونخوا یو صاحب دیوان شاعر دی چې پکښې ډیرې غزلي شته. دی د پښین د ضلعې خانوزئی سیمې اوسېدونکی ؤ. په ختهٔ کاکړ، پانېزئی ؤ.

"د پلار نوم یې عبدالرحیم ؤ" (۱۹).

د پښتو ژبې ښهٔ شاعر ؤ او ددهٔ د شاعرۍ کتاب د دیوان حافظ خان محمد په نوم چاپ شوی دی، دیوان یې د دهٔ له مرګه پس زوی چاپ کړی.

"د دهٔ زوی عزیزالرحمان په ۱۹۷۵م کښې چاپ کړی دی چې تصحیح تحیشه و مقدمه نګاري یې صاحبزاده حمید الله لیکلي ده"(۲۰).

د حافظ شاعري اصلاحي او اخلاقي رنګ لري یو څو شعرونه یې دا دي:

"چې چاره د بې چاره وو نهٔ په کیږي
خان محمد پر دې دولت وایي لعنت
خسته حال د پښتنو کړم خسته دله
ځکه نهٔ وایم غزل عاشقانه
که د حُر زندګي غواړې همت وکړه
د مریانو په سر ښبلي همیش لښتې"(۲۱)

## جدیده دوره (له ۱۹۴۷م عیسوي کال څخه تر اوسه)

د سهېلي پښتونخوا پښتو غزل معاصره یا جدیده دوره له ۱۹۴۷م عیسوي څخه پیل کیږي او تر اوسه پورې دوام لري. دا مې ځکه جلا دوره ټاکلې ده، ولې چې دلته هم د پښتنو ریاست بدل شوی، درياست نوم بدل شوی او ورسره حکمران بدل شوی دی. مخکښې انګرېزحکمران ؤ او د ریاست پولې یې تر لرې لرې پورې غزېدلي وې. په مذهب او ثقافت را نه لري ول. خو په جدیده دوره کښې د ریاست پولې رالنډې شوې او د ریاست حکمران په مذهب راګډ شو خو ثقافتي جلاوالی اوس هم هغسې دوام درلود، د دې په پایله کښې د سهېلي پښتونخوا پښتو ادبیات او بیا په خاصه توګه دغزل هم د موضوع په لحاظ تغیر خوړلی دی. دې دورې د نورو دوو دورو په تناسب ډېر غزلګو شاعران پیدا کړي دي خو دا به کتل غواړي چې معیار یې څومره لوړ پاتې شوی دی. د جدیدې دورې غزلګو شاعران او دهغوی د غزل بېلګې په لاندینې ډول دي.

سعید احمد ګوهر: سعید احمد ګوهر چې د سعید ګوهر په نامه مشهور دی په سهېلي پښتونخوا کښې یو له هغو غزلګو شاعرانو څخه دی چې غزل یې د فن او هم د مضمون په لحاظ لوړتیا لري. غزل یې لوړ معیار لري. دی د سهېلي پښتونخوا د ضلع لورالایي (بورې) اوسېدونکی

دی او د ژوند اخري شپې او ورځې يې په کوټه ښار کښې تېرې کړې وې. خو سعيد ګوهر په بنيادي توګه سيمه ايز تړون د خيبرپښتونخوا سره ؤ او په ختټه اورکزئی پښتون ؤ.

"د دۀ رنګ سخن ځان له رنګ لري او ډېر ځوانان يې هم متاثره کړي دي" (۲۲)

د ګوهر په غزل کښې جدت ښکاري او هر شعر يې ځان له ژوند او خوځښت لري يعني غزل يې تغزل لري چې د دې تغزل له کبله په انساني خوږه اغېز کوي او د ښې معياري شاعرۍ ثبوت ورکوي. له دې کبله مونږ ورته د غزل ژوند هم ويلی شو.

دېيو ژور فکر لرونکی انسان ښکاري ولې چې د غزل څخه يې ځيرکتيا او د فکر ژوروالی څرګندېږي. د غزل بېلګه:

"که خپل ځان کتل غواړې آئينه ده زندګي
د نورو طلبګاره ستا څېره ده زندګي
حباب دی که ګنبده کائينات غواړي دريافت
د نوو امکاناتو دروازه ده زندګي
که نۀ ده بيا خو نۀ ده ملامته په دنيا
که ده خو د خپل ځان محاسبه ده زندګي
داغي يې ده زما په تور کردار باندې لمن
په خپل عمل کښې پاکه فرشته ده زندګي
ګوهره! کتابونه، فلسفې، علم نيم ګوري
د زده کړې مکمله تجزيه ده زندګي"(۲۳)

عبيدالله درويش: عبيدالله درويش چې د درويش دراني په نامه زيات شهرت لري. د سهېلي پښتونخوا د سر ښار کوټې اوسېدونکی دی او د کالج په کچه د انګريزي د ادبياتو استاد هم پاته شوی دی. په 2012ء کښې له بروري کالج کوټې څخه ريټائرډ شو، او تر اوسه حيات دی.

دی په پښتونخوا کښې بلکې په لروبر پښتونخوا وطن کښې دغزل په ډګر کښې ډېر لوی نوم لري.د دۀ غزل په فني معيار د لوړ معيار منل شوې غزل ده. او هررنګه فني نيمګړتياوو څخه صفا ده. او د مضمون په لحاظ ښۀ رنګيني لري، چې د قاري يا ويونکي ذهن او فکر خپلې خواته ډېر په اسانۍ سره د را جلبولو وړتيا لري.

"په معاصرو شاعرانو کښې به ډېر لږ کسان وي چې د هغۀ د غزل د ښايست،سادګۍ ژور والي او ښکلا سره سيالي و کړای شي"(۲۴).

که دا وو ايو چې درويش په معاصر پښتو غزل کښې په لره او بره پښتونخوا کښې ساری نۀ لري نو بې ځايه به نۀ وي. د غزل بېلګه يې داسې ده.

"رنې اوښکې مې را اوري په لمن کښې
ورېم به يار لره دا ستوري په لمن کښې
مقدره! دا دې زړۀ راباندې وسو
که دې نۀ شته لمحې نوري په لمن کښې
بيا به سر د زورور په وينو رنګ وي
وي به کانړي د کمزوري په لمن کښې
دا احسان دی د پسرلي چې ستا له لوري
ګلان راوړي تر مونږ پورې په لمن کښې
د درويش هره مصرعه د ګلو څانګه
خوشبويي يې د هر توري په لمن کښې"(۲۵)

راز محمد راز: خدای بخښلی راز محمد راز د سهېلي پښتونخوا له هغو شاعرانو څخه يو دی چې د نظم سره يې غزل هم ليکلې ده او دۀ په خپله غزل کښې لوړ او ژور فکر داسې ځای کړې چې اورېدونکی يا لوستونکی واخلې په بله معنٰی به داسې ووايو چې باريک او نازک خيالات يې پکښې را يو ځای کړي دي. د غزل هر يو شعر يې د معنٰی په لحاظ ډېره لويه ساحه لري چې يو سړی پکښې د حيرت تر حد تګ يا سوچ کولی شي.د ی د تصوف وخواته مايل شاعر دی او په تصوف کښې د وحدت الوجود د نظريې قايل دی. او جبريه نظر لري چې انسان مجبور ګڼي. د غزل بېلګه يې څۀ داسې ده:

"د عدم معروضيت وينم باداره!
په وجود کښې لاشيت وينم باداره!
په ظاهر که د مادې په کثرت ګېر يم
په معنٰی کښې احديت وينم باداره!
امکان شته چې نور وګڼي دې آزاد وي
زۀ په خپله جبريت وينم باداره!
شب وروز ژوند او مرګی په رېښه يو دي
په اضداد کښې جمعيت وينم باداره!
راز و تاته نۀ رسېږم لامکانه
تر ابده اذيت وينم باداره!"(۲۶)

سید خیر محمد عارف: سید خیر محمد عارف هم د جنوبي پښتونخوا په غزلګوشاعرانو کښې د جدیدې دورې یو نامتو شاعر دی چې د غزلو مجموعه یې یې په کال ۲۰۱۲م عیسوي کښې د (دیوالونه ویښ دي) چې غزل جدید ریالستیک اپروچ لري. په غزل کښې قامي شعور او سماجي شعور په ډېر ساده مګر فني انداز بیان لري. غزل یې په معیار او فني لحاظ مکمل جدید خول لري. په سهېلې پښتونخوا کښې یې د غزل په حقله ښهٔ نوم هم ګټلی دی، د غزل بېلګه یې داسې ده.

"څومره ساده یې اوس یې هم په مزاج نهٔ پوهېږې
پښتون سړی یې د پښتون په رواج نهٔ پوهېږې
ورځې هغه له د زوال سوب ښېرا درښیې
مرض دي بل دی ته د ځان په علاج نهٔ پوهېږې
منم چې ته به د زړهٔ سره باد په توره وهې
خو پېښنه دا ده په تاړاک او تاراج نهٔ پوهېږې
نوی تاریخ دي لوستی نهٔ دی په زاړه نامه یې
زړهٔ دي پښتون دی ځکه ته په خراج نهٔ پوهېږې
عارف به څهٔ رنګه وتاته خبر نیمه کوي
د خوړو تورو په خوږمن احتجاج نهٔ پوهېږې"(۲۷)

په سهېلې پښتونخوا کښې د غزل د جدیدې دورې لمن پراخه ده یعني زیات شمېر غزلګو شاعران لري. خو مونږ په خپل تحقیق کښې د طوالت له کبله نهٔ شو کولی چې په ځانګړې توګه د هر یوه د غزل نمونې راواخلو او تبصره پر وکړو نود هغو شاعرانو صرف نومونه ذکر کوو کوم چې منل شوي غزلګو شاعران دي.او د هغوی شعري مجموعې هم چاپ شوې دي د هغوی په اړه که خدای کول بل وخت څهٔ لیکم.

**نتیجه**: د دې پورتني بحث په رڼا کښې مونږ تش د سهېلي پښتونخوا پر هغه غزلګو شاعرانو باندې بحث وکړ کوم چې په پښتو ادب کښې منل شوي دي او د سهېلي پښتونخوا د پېژندګلوی باعث ګرځېدلي دي. په جدیده دوره کښې دلته ډېر شاعران داسې دي چې د هغوی شاعري به په پښتو ادب کښې د نوي فکر باعث ګرځي دهغه تش ذکر کول زیاتې وه نو ځکه مونږ هغه شاعران په نخښه کړل کوم چې یې خپله ونډه په پوره توګه د غزل په برخه کښې اچولې ده او سهېلي پښتونخوا یې د څلورم مرکز په توګه په پښتو ادب کښې راښکاره کړه.

❁❁❁

# حوالې

(1) رفیع، حبیب الله، سریزه، د پیرمحمد کاکړ دیوان، چاپ کال ۲۰۱۱،مخ۷
(2) هېوادمل، زلمی، سرمحقق، د پښتو ادبیاتو تاریخ، لومړی ټوک، دانش خپرندویه ټولنه- پېښور،کال ۲۰۰۰.مخ۲۳۹
(3) حبیبي، عبدالحی، پښتانهٔ شعراء (اوله حصه)،یونیورسټي بک اېجنسي-پېښور،مخ۱۸۳
(4) د پیرمحمد کاکړ دېوان، اشاعتي اداره؟.مخ ۱۳۶
(5) اتل، میرحسن خان، داوګړي ډېر کړې خدایه، یونایټډ پریس -کوټه، ۲۰۱۶م.مخ۶۷
(6) هېوادمل، زلمی، د پښتو ادبیاتو تاریخ، دانش خپروندی ټولنه ۲۰۰۰ع مخ۲۵۳
(7) اتل، میر حسن خان، داوګړي ډېر کړې خدایه، مخ۷۳-۷۴
(8) حبیبي، عبدالحی، پښتانهٔ شعرا، مخ۲۱۳
(9) هېوادمل، زلمی، سرمحقق،د پښتو ادبیاتو تاریخ، مخ۲۴۹
(10) حبیبي، عبدالحی، پښتانهٔ شعراء، مخ۲۱۳
(11) هېوادمل، زلمی، سرمحقق،د پښتو ادبیاتو تاریخ، مخ۲۵۳
(12) ایضاً، مخ۲۵۳
(13) حمیدالله، صاحبزاده، پښتوادب په سهېلي پښتونخوا کښې، صاحبزاده کتابکور پښین، کال۱۹۸۹م، مخ۴۴
(14) ایضاً، مخ۴۶-۴۷
(15) جهاني، عبدالباري،د مشکوکاروان، صحاف نشراتي مؤسسه،کال ۲۰۰۵م.مخ۱۹۰
(16) ایضاً، ۱۹۱
(17) حمید الله، صاحبزاده، پښتوادب په سهېلي پښتونخوا کښې ، اشاعتي اداره؟ سن؟ مخ۵۱
(18) جهاني، عبد الباري، دمشکوکاروان، مخ۹۱-۹۲
(19) حمید الله، صاحبزاده، پښتوادب په سهېلي پښتونخوا کښې، مخ۴۷
(20) ایضاً، مخ۴۸
(21) ایضاً
(22) ایضاً، مخ۸۴
(23) عارف، خیرمحمد، پښتو ژبه او ادبیات د یویشتمې پېړۍ په درشل کښې، پښتوادبي ملګري، لورالائي، سن اشاعت؟، مخ۲۸۶

(24) جهاني، عبد الباري، د مشکوکاروان، مخ۳۲۵
(25) دراني،درویش، ستوري په لمن کښې، صحاف نشراتي مؤسسه، ۲۰۱۱، مخ۲۱۴
(26) راز،محمدراز، خزان زما په اوښکو ژاړي، فکرونه ادبي ټولنه پښین، ۲۰۱۳ء، مخ۱۲۲
(27) عارف، خیرمحمد، سید، دیوالونه ویښ دي، پښتو ادبي ملګري لورالائي، ۲۰۱۲ء، مخ۹۰